**BUCK LODGE MIDDLE SCHOOL**

Kenneth Nance, Principal | kenneth.nance@pgcps.org
2611 Buck Lodge Road | Adelphi, MD 20783 | 301-431-6290 | www.pgcps.org/bucklodge

**د ۲۰۲۶ کال د اګست ۳مه**

**د بک لاج منځني ښوونځي درنو کورنیو!**

**د ۲۰۲۶–۲۰۲۷ ښوونیز کال ته ښه راغلاست!**

زه ډېر خوښ یم چې د نوي او بېرته راستنېدونکو زده کوونکو او د هغوی له کورنیو سره یو ځل بیا کار کوم، ترڅو د هغو پیاوړو بنسټونو پر لا پیاوړتیا کار ته دوام ورکړو چې په **بک لاج منځني ښوونځي** کې رامنځته شوي دي. موږ به په ګډه د علمي بریا لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړو او داسې ټول شموله، خوندي او ملاتړوونکې ښوونیزه ټولنه به لا پیاوړې کړو چې هر زده کوونکی پکې د زده کړې، ودې او بریا فرصت ولري. هیله لرم چې تاسو او ستاسو کورنۍ خوندي، ارام او له خوښیو ډک دوبی تېر کړی وي.

د نوي ښوونیز کال له پیل مخکې، غواړم څو مهم معلومات او مهمې نېټې له تاسو سره شریکې کړم، ترڅو د ښوونیز کال پیل په ښه او منظم ډول ترسره شي. زده کوونکي به د پخوا په څېر د **A-Day/B-Day** مهال وېش تعقیبوي؛ هره ورځ به شپږ درسي ټولګي ولري او د غرمې لپاره به یوه **۳۰ دقیقې** وقفه ولري.

**د ۲۰۲۶–۲۰۲۷ ښوونیز کال نوی بدلون**

**د پرنس جورج کاونټي عامه ښوونځیو (PGCPS)** د تدریس ورځ **۵ دقیقې** اوږده کړې ده. دا اضافي تدریسي وخت به د خرابې هوا له امله د ضایع شویو درسي ورځو په جبران کې مرسته وکړي او د ښوونیز کال په وروستیو کې به د ورک شویو درسي ورځو د بېرته جبران اړتیا کمه کړي.

**د زده کوونکو د راتګ او رخصتېدو وختونه**

د ښوونځي رسمي وخت **د سهار له ۸:۰۰ بجو څخه د ماسپښین تر ۳:۳۰ بجو پورې** دی، او د زده کوونکو تدریسي ورځ **د سهار له ۸:۳۰ بجو څخه د ماسپښین تر ۳:۱۵ بجو پورې** دوام لري.

د دې لپاره چې د زده کوونکو راتګ او رخصتېدل په خوندي او منظم ډول ترسره شي، مهرباني وکړئ لاندې لارښوونې په پام کې ونیسئ:

**راتګ**

- زده کوونکي کولی شي د سهار له **۸:۰۰ بجو** وروسته ښوونځي ته راشي.
- هېڅ زده کوونکی باید د سهار له **۸:۰۰ بجو** مخکې د ښوونځي انګړ ته رانشي، ځکه په هغه وخت کې د لویانو څارنه شتون نه لري.
- د راتګ پر مهال:
  - د **شپږم او اتم ټولګي** زده کوونکي به کافېټریا (Cafeteria) ته ځي.
  - د **اووم ټولګي** زده کوونکي به جمنازیم (Gymnasium) ته ځي.
- هغه زده کوونکي چې سهارنۍ خوري، د سهار تر **۸:۱۵ بجو** پورې به په کافېټریا کې پاتې شي او وروسته به نېغ خپل **کورني ټولګي (Homeroom)** ته ولاړ شي.

**له وخته مخکې رخصتي**

له **د ماسپښین ۲:۳۰ بجو** وروسته به هېڅ زده کوونکی د وخت نه مخکې رخصت نه شي. مهرباني وکړئ خپلې لیدنې او نور کارونه د همدې وخت له مخې تنظیم کړئ.

**رخصتي**

**BUCK LODGE MIDDLE SCHOOL**
PGCPS
Kenneth Nance, Principal | kenneth.nance@pgcps.org
2611 Buck Lodge Road | Adelphi, MD 20783 | 301-431-6290 | www.pgcps.org/bucklodge

رخصتي د **ماسپښین په ۳:۱۵ بجو** پیل کیږي، او ټول زده‌کوونکي باید تر **۳:۳۰ بجو** پورې له ښوونځي څخه واخیستل شي.

**خواړه (سهارنۍ او د غرمې ډوډۍ)**

سهارنۍ د **سهار له ۸:۰۰ څخه تر ۸:۲۵ بجو پورې** ټولو زده کوونکو ته برابره ده. هغه زده کوونکي چې د ناوخته بس له لارې ښوونځي ته راځي، هم به د خپلو ټولګیو له پیل مخکې د سهارنۍ د ترلاسه کولو فرصت ولري.

**مهمې نېټې**

- **دوشنبه، د اګست ۱۰مه :**د ښوونځي د پیل جشن *(Back-to-School Jam)*، د والدینو د لیدنې او ټولنیزې غونډې پروګرام – په **بک لاج منځنۍ ښوونځي** کې ) *د ماسپښین له ۳:۰۰ څخه تر ۶:۰۰ بجو پورې.(*
- **جمعه، د اګست ۲۱مه :**د زده کوونکو مهالوېشونه به په**Synergy** کې خپاره شي *په احتمالي ډول*
- **دوشنبه، د اګست ۲۴مه :**د زده کوونکو د پېژندنې غونډه *د سهار له ۸:۳۰ څخه تر ۱۱:۳۰ بجو پورې*؛ **یوازې د هغو زده کوونکو لپاره چې سږ کال د لومړي ځل لپاره بک لاج منځنۍ ښوونځي ته راځي.**
- **سه‌شنبه، د اګست ۲۵مه :**د ښوونځي لومړۍ ورځ.
- **دوشنبه، د سپتمبر ۷مه :**د کارګرانو ورځ – *(Labor Day)*ښوونځي او دفترونه تړلي دي.
- **چهارشنبه، د سپتمبر ۱۶مه :**د مسلکي پرمختګ ورځ – ښوونځي د زده کوونکو لپاره تړلي دي.
- **دوشنبه، د سپتمبر ۲۱مه :د یوم کیپور (Yom Kippur)** رخصتي – ښوونځي او دفترونه تړلي دي.
- **پنجشنبه، د سپتمبر ۲۴مه :د ښوونځي د پیل شپه ) *(Back-to-School Night)*** *د ماښام له ۶:۰۰ څخه تر ۸:۰۰ بجو پورې .(*د دې پروګرام نور معلومات به له نېټې سره نږدې له تاسو سره شریک شي.

زموږ د والدینو د ښکېلتیا مرستیاله، **آغلې جانسي کروز(Ms. Jancy Cruz)** ، د ټول ښوونیز کال په اوږدو کې د کورنیو د ملاتړ او ستاسو د پوښتنو د ځوابولو لپاره چمتو ده.

همدارنګه، موږ تاسو هڅوو چې د **بک لاج منځنۍ ښوونځي** وېبپاڼه په منظم ډول وګورئ، ترڅو د تازه خبرونو، اعلانونو او نورو مهمو معلوماتو څخه خبر پاتې شئ. د کور او ښوونځي ترمنځ پیاوړې همکاري د زده کوونکو د بریا لپاره بنسټیز ارزښت لري، او موږ هیله لرو چې د ټول ښوونیز کال په اوږدو کې له تاسو سره نږدې همکاري ولرو.

که ستاسو ماشوم د لومړي ځل لپاره د **بک لاج** د ښوونځي له کورنۍ سره یوځای کېږي، یا بېرته خپل ښوونځي ته راګرځي، موږ ورته د زړه له کومې ښه راغلاست وایو. زموږ ښوونکو او کارکوونکو د دوبي په اوږدو کې په پوره هڅو کار کړی ترڅو د یوه بریالي ښوونیز کال لپاره بشپړ چمتووالی ونیسي، او موږ خوښ یو چې له هر زده‌کوونکي سره د زده‌کړې، ودې او بریا په لاره کې مرسته وکړو .ستاسو د دوامدار ملاتړ او همکارۍ څخه مننه. په ګډه به د ۲۰۲۶–۲۰۲۷ **ښوونیز کال** یو بریالی، ګټور او د یاد وړ کال جوړ کړو .موږ په تمه یو چې د **دوشنبې، د اګست په ۱۰مه** د **ښوونځي د پیل په جشن** *(Back-to-School Jam)*کې له تاسو سره ووینو او د **سه‌شنبې، د اګست په ۲۵مه** د ښوونځي په لومړۍ ورځ خپلو زده‌کوونکو ته ښه راغلاست ووایو.

**په درناوي،**

**کېنېت نانس، جونییر**
**مدیر**